آصف بهاند ۲۰۲۴/۰۸/۱۱

# د افغانستان په لوی‌قاموس کې د محمدصدیق ننګ بیوګرافي

**افغان جرمن انلاین پورتال ژمنه کړې ده چې «د افغانستان لو ی قاموس» په پاڼو کې د هېواد ځینې خدمتګاران خپلولوستونکو ته ورووپېژني .**

**«د افغانستان لوی قاموس» په خپله لمن کې د ګڼو علمي، هنري، ژبنيو (مجمع اللغات، تاریخ، جغراف یه، کرنه، اقتصاد او...) لغاتو د راټولولو او خوندي کولو سربېره، پټیلي ده چې د «شاعرانو، لیکوالو، هنرمندانو او خدمتګارانو» په کټګورۍ کې چې د اثارو، مقالو شعرونو او یا په نورو برخو کې د لاسته راوړنو څښتنان اوسي، په لنډ ډول معرفي او خپلو لوستونکو ته یې په انلاین بڼه وروپېژني .**

**افغان جرمن انلاین پورتال خپله دنده ګڼي چې له توپیر او شخصي حُب او بُغض پرته په یاده برخه کې هغه ښاغلي او اغلې معرفي کړي چې افغان، افغانستان او افغان ټولنې ته یې خدمت کړی وي.**

نوم او تخلص: محمد صدیق ننګ،



زوکړه: ۱۳۳۴ ل ل جوزا میاشت، لغمان ولایت مهترلام ښار پورې اړوند د عمرزیو سیمه (ادوخیلو) کلي،

زدکړې: د مهترلام ښار د روښان لیسې له دولسم ټولګي څخه په ۱۳۵۳ هـ ل فارغ شو،

په ۱۳۵۶ ل ل کې یې د ننګرهار د ښوونکو روزنې عالي مؤسسه په بریالیتوب پایته ورسوله،

د ۱۳۵۷ هـ ل کال د حوت په شلمه د څرخي پله لویې کلا ته ورمیله کړای شو، دا میلمستیا د ۱۳۵۸ کال د جدي ترشپږمې پورې وغځېده،

یووخت په افغانستان کې حالات داسې راغلل چې ځینې ملکي فرهنګي چارو کې بوخت کسان د یوې اړتیا له مخې نظامي کارونه ته ولېږل شول او هلته په کارونو وګمارل شول. صدیق ننګ هم د همدې اړتیا له مخې نظامي زدکړو ته مخه کړه. لومړی یې په حربي پوهنتون کې نظامي زدکړې پیل کړې، په سامع ډول یې د حربي پوهنتون اوه پنځوسمه دوره پایته ورسوله او په اعلی درجه یې د یاد پوهنتون له سیاسی پوهنځي څخه د فراغت سند ترلاسه کړ. له حربي پوهنتون نه مخکې یې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

یوې لنډې مودې (شپږمیاشتنی کورس) لەپاره د اوکراین د لفوف عالي سیاسي نظامي پوهنتون ته هم سر ورښکاره کړی و.

دندې: د کابل په چهاراسیاب لیسه کې او د قلعه کاشف په منځني ښوونځي کې د ښوونکي په توګه او د یوڅه مودې لەپاره د  د قلعه کاشف په منځني ښوونځي کې د سرښونکي په توګه هم دنده ترسره کړې ده.
په نظامي برخو کې یې دا دندې ترسره کړې دي:

ــ د ملي ګارد د ارګ د لوا د افسر په توګه،

ــ د کابل په بالاحصار کې د خاص ګارد د قوا د افسر په توګه،

ــ د ۱۰۱ ساتونکي غونډ د افسر په توګه.

وروستی دنده یې په اریانا افغان هوایي شرکت کې ماموریت و چې د توپکي رژیم تر راتګ پورې په همدې دنده کې پاتې شو.

پر افغانستان باندې د ټوپکیانو له حاکمېدو سره سم، حالات خراب شول، لکه د نورو روڼاندو په څېر صدیق ننګ هم د وطن پرېښودو ته اړ شو، په ۱۹۹۲ م ماسکو ته لاړ او د ۱۹۹۶ ام کال په دسمبر کې له ماسکو څخه د اروپا په لوري وخوځېد. او دا دی  کلونه کېږي چې د اروپا په ډنمارک هېواد کې ژوند کوي.

محمدصدیق ننګ د افغانستان په معاصر فرهنګي بهیر کې یو مطرح قلموال او ویناوال دی.  د ده له خبرو، چلن، شعرونو او لیکنو نه په ښکاره معلومېږي چې دی پر وطن او خلکو باندې مین شاعر او د یو کاریزماتیک شخصیت لرونکی دی، محمدصدیق ننګ د ملي کرکټر خاوند هغه قلموال دی چې تل د خلکو او وطن د ګټو او پرمختګ په واټ باندې په مېړانې سره روان دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ